**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

# په غزه کې ماشومان د ژوندي پاتې کېدو لپاره د څارويو خواړه خوري!

بي بي سي د غزې په شمال کې د مېشتو خلکو په اړه په یوه مستند راپور کې ویلي چې هلته ماشومان له څو ورځو راهیسې هېڅ خوراکي توکي نه لري. یهودي اداره د مرستو کاروانونو ته اجازه نه ورکوي. ملګرو ملتونو خبرداری ورکړی چې په شمال کې د ماشومانو په منځ کې خوارځواکي په چټکۍ سره په زیاتیدو ده او اوسمهال د ۱۵ سلنې له جدي حد څخه پورته شوې ده. د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداره، OCHA وایي چې د مرستو په رسولو کې د یهودي ځواکونو لاسوهنه ډېره شوې او یوازې تېره میاشت یې د غزې په شمال کې د تر نیمایي ډېرو مرستندویه ماموریتونو مخه نیولې.

د غزې ځینې اوسیدونکو د ژوندي پاتې کېدو لپاره د څارويو خواړه له اوړو سره ګډوي، چې اوس د دغو غلو (د څارويو د خوړو) له جدي کمښت سره هم مخ دي. خلک د څښلو او مینځلو لپاره اوبو ته د لاسرسي په موخه په ځمکه کې د اوبو د پایپونو د پلټلو په لټه کې دي.

اټکل کیږي چې د غزې په شمالي سیمو کې شاوخوا ۳۰۰ زره خلک اوسېږي او په بشپړه توګه له مرستو څخه بې برخې او د قحطۍ له جدي ګواښ سره مخ دي.

په بیت لاهیا کې یوه ځايي طبي مرستندویه کارکوونکي، محمود شالابي وویل؛ خلکو د څارويو دانه په ژرنده اوړه کوله، خو هغه هم اوس په ختمېدو ده. «دا غلې هم اوس د غزې په شمال او د غزې ښار کې نشته. هغه څه چې دلته د نومبر د میاشتې د شپږو یا اوو ورځو اوربند په پایله کې راوړل شوي و او د غزې شمال ته د هر ډول مرستو د لېږد اجازه ورکړل شوې وه. هغه ټول تر نن پورې مصرف شول. خلک اوس یوازې وریجې خوري.»

د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) بي بي سي ته ویلي چې د یهودي دولت ځواکونو شمال ته له تیرو پنځو مرستندویه کاروانونو څخه څلور ودرول او دا کار د دې لامل شو چې د غزې ښار ته د دوو اونیو لپاره هېڅ ډول مرستې ونه رسیږي. د درواغو او پروپاګنډ په یوه میتودیکه کړنه کې د یهودو د نظامي ادارې یوه ویاند چې په غزه کې د مرستې رسولو د همغږي کولو دنده لري تیره میاشت وویل چې «په غزه کې هیڅ لوږه نشته.» کوګاټ (Cogat) ادارې په وار وار ویلي چې غزې ته د بشري مرستو رسول باید محدود نه شي.

موږ پوهېږو چې د غزې د وضعیت پر تریخ حقیقت او او وحشتناک واقعیت پرده اچول کیږي او نړۍ ته بل ډول ښودل کیږي. خو شته شواهد ښیي چې وضعیت څومره ناوړه دی!

څنګه امکان لري چې زموږ د غزې له مینه ناکو، پاکو او خوږو ماشومانو سره د ځارویو په څېر چلند وشي؟ له شک پرته چې د اسلامي خاورو واکمنان باید په دې جنایتونو کې له یهودانو سره د دوی د مرستې حساب ورکړي، ځکه چې دوی د مسلمانانو دلښکرو مخه نیسي. موږ د اسلامي امت په توګه هیڅکله هغه شریر او ناوړه عملونه نه شو منلی چې د ځان د کاذبې دفاع او بیان د هغې ازادۍ په نامه ترسره کېږي چې الله سبحانه و تعالی او اسلام ننګوي. اې اسلامي امته! د حکومتونو غفلت او کمزوي مو افشا کړئ او له هغه تاریخ څخه ځان لرې کړئ چې د شیطان د پلانونو پلي کېدو په موخه لیکل کیږي؛ له دې سره به مو الله سبحانه و تعالی د قیامت په ورځ له خپل سخت عذاب څخه وژغوري.

**[أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ وَيُخَوِّفُونَكَ بِالَّذِينَ مِن دُونِهِ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ * وَمَن يَهْدِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّضِلٍّ أَلَيْسَ اللَّهُ بِعَزِيزٍ ذِي انتِقَامٍ * وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلْ أَفَرَأَيْتُم مَّا تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ إِنْ أَرَادَنِيَ اللَّهُ بِضُرٍّ هَلْ هُنَّ كَاشِفَاتُ ضُرِّهِ أَوْ أَرَادَنِي بِرَحْمَةٍ هَلْ هُنَّ مُمْسِكَاتُ رَحْمَتِهِ قُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ عَلَيْهِ يَتَوَكَّلُ الْمُتَوَكِّلُونَ * قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ * مَن يَأْتِيهِ عَذَابٌ يُخْزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيْهِ عَذَابٌ مُّقِيمٌ]** [الزمر:۳٦-۴۰]

**ژباړه:** اې پیغمبر صلی الله علیه وسلم! ایا یوازې الله سبحانه وتعالی د (کافرانو له شر څخه) د خپل بنده د ساتلو لپاره کافي نه دی؟ دوی له الله سبحانه وتعالی پرته، تا له نورو څخه ویروي. بیشکه الله چې څوک ګمراه کړي، د هغه لپاره بیا بل هېڅ لارښوونکي نه شته. او چا ته چې الله سبحانه وتعالی هدایت وکړي، هغه بیا هېڅوک هم نه شي ګمراه کولی. ایا الله سبحانه وتعالی پر ټولو برلاسی او غچ اخیستونکی نه دی؟ که ته له دوی څخه پوښتنه وکړې، چې اسمانونه او ځمکه چا پیدا کړي دي، نو دوی به خپله ووایي چې الله سبحانه وتعالی. دوی ته ووایه «چې حقیقت دا دی، نو تاسو څه فکر کوئ، که الله ماته کوم زیان رسول وغواړي، نو ایا ستاسو دغه معبودان چې له الله سبحانه وتعالی پرته له هغوی غوښتنه کوئ، ما له هغه زیان څخه ژغوري؟ نو ایا دوی به د هغه د رحمت مخنیوی وکړی شي؟ دوی ته ووایه، «زما لپاره یوازې همدغه الله سبحانه وتعالی کافي دي او توکل کونکي یوازې پر همدغه ذات توکل کوي.» دوی ته په ډاګه ووایه: «اې زما قومه! تاسو خپل کار کوئ او زه به خپل کار کوم، ډېر ژر به تاسو په دې حقیقت پوه شئ، چې پر چا رسوا کونکی غذاب راځي او چاته هغه سزا ورکول کیږي، چې هېڅ کله ترې لرې کېدونکي نه ده (دایمي ده).

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**

د نشرولو ځانګه

۱۴۴۵ هـ.ق کال، د شعبان ۵مه
۲۰۲۴م کال، د فبروري ۱۵مه
د صدور ګڼه: ۰۲۴/ ۱۴۴۵